## نړیواله مالي اداره د کوچنیو پورونو د لمړي بانك (First Microfinance Bank) سره په افغانستان کې د کور جوړولو د بسپڼو د لاس رسي لپاره مرسته کوي

**کابل، افغانستان (د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر میاشتې اوومه مه):** نن نړیوالې مالي ادارې چې د نړیوال بانك د ګروپ غړې ده، د کوچنیو پورونو د لمړي بانك (FMFB) سره یو تړون لاسلیك کړ چې د هغې پر بنسټ د نوموړي بانك توان د داسې بانکي آسانتیاوو د پیل لپاره پراختیا مومي چې د کورونو جوړولو په ډګر کې د ټیټو او منځنیو عوایدو درلودونکو افغانانو اړتیاوو ته پاملرنه کیږي.

په افغانستان کې ډېرئ د کوچنیو پورونو مؤسسې او بانکونه د کورونو جوړولو لپاره پور نه ورکوي او د کورونو عرفي تمویل محدود دی ځکه اوسني حقوقي او مقرراتي بنسټونه د رهني پورنو څخه ملاتړ نه کوي. ددې نیمګړتیا د ډکولو لپاره به نړیواله مالي اداره او د کوچنیو پورونو لمړی بانك ګډې هڅې وکړي تر څو د ټیټو او منځنیو عایداتو درلودونکې کورنۍ او کسان د کورونو جوړولو مناسبو پورونو ته لاس رسی پیدا کړي. نړیواله مالي اداره په پام کې لري ترڅو یو تن سلاکار د کوچنیو پورونو د لمړي بانك سره د مناسبو عملیاتي پالیسیو او لاربښودونو په جوړولو کې چې د کور جوړونې د دایمي پورونو د ورکړې لپاره پکار دي، د همکارۍ لپاره په کار وګماري.

ښاغلی مسلم الحق چې د کوچنیو پورونو د لمړي بانك اجرایوی رییس دی، وایي چې: مونږ ډاډه یو چې د نړیوالې مالي ادارې په تخنیکي مرستې سره به وکولای شو داسې آسانتیاوې چمتو کړو چې د ډېرئ هغه افغانانو د اړتیاوو په لېږې کولو کې چې اوس د کورونو جوړونې بسپنو ته لاس رسی نلري، مرسته وکړي.

سید فرهان فصیح الدین چې په منځني ختیځ او شمالي افریقا کې د نړیوالې مالي ادارې د کورونو د تمویل د سلاکاره خدمتونو د څانګې مشر دی، داسې څرګندونه وکړه: زمونږ موخه داده چې د اقتصادي ننګونو سره د مخ شویو افغانانو د ژوند معیارونه ښه والی ومومي. مونږ هیله لرو ترڅو ددې موخې د ترسره کېدو لپاره د کوچنیو پورونو د لمړي بانك سره اوږد مهاله اړیکې ټینګې کړو.

په ۲۰۰۷ کال کې، نړیوال مالي شرکت د نړیوال بانك سره په همکارۍ کې د افغانستان د کورونو د سکتور سروې ترسره کړه او خپلې سپارښتنې یې د کورنو په ډګر کې د رهني پورونو او مایکروفینانس پراختیا په هکله وړاندې کړې.

نړیواله مالي اداري په ۲۰۰۴ کال کې د کوچنیو پورونو د لمړي بانك په جوړښت کې د یو میلیون امریکایي ډالرو پانګې په اچولو سره مرسته وکړه. په دې وروستیو کې، نړیوالې مالي اداري د نوموړي بانك سره خپلې اړیکې د ۴,۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د پور په ورکړې سره پراخې کړې ترڅو د مایکروفینانس، کورونو د تمویل، او کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره د پورونو څخه ملاتړ وشي.

**د نړیوالې مالي اداري په هکله:**

نړیوال مالي شرکت چې د نړیوال بانك د ګروپ غړی دی، خلکو ته د بېوزلۍ څخه د خلاصون او ژوندانه د ښه کولو موقع برابروي. مونږ د پرمختلونکو هېوادونو د دایمي اقتصادي ودې څخه داسې ملاتړ کوو چې د خصوصي سکتور د پراختیا، د خصوصي پانګو د منظمولو، د سلاکاره خدمتونو د چمتو کولو او د تشبثاتو او دولتونو لپاره د زیان (ضرر) د کمښت د خدمتونو څخه حمایت کوو. په ۲۰۰۸ کال کې زمونږ نوې پانګې اچونې په مجموعي توګه ۱۶,۲ میلیونه ډالرو ته ورسېدلې چې د تېر کال په پرتله ۳۴ په سلو کې زیاتوالی ښیي. د لا زیاتو معلوماتو لپارد www.ifc.org ویب سایټ ته تلای شی.

**د د کوچنیو پورونو د لمړي بانك په هکله:**

د کوچنیو پورونو د لمړي بانك په افغانستان کې د مالي خدمتونو د مخکښو برابروونکو څخه ګڼل کیږي. دا بانك د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو او کورنیو لپاره د ثابتو مالي خدمتونو د چمتو کولو له لارې د بېوزلیو په کمښت او اقتصادي وده کې ونډه لري. دا بانك د آغا خان بنیاد د کوچنیو پورونو د اداري یوه برخه جوړوي چې نوموړې اداره د سویس هېواد د قوانینو پر بنسټ د یوې نا انتفاعي، نا مذهبي او نړیوالې مؤسسې په حیث جوړه شوې ده چې د کوچنیو پورونو د ورکړې تر ۲۵ کلونو اوږده فعالیتونه، پروګرامونه او بانکونه چې تردې وړاندې د آغاخان د پرمختیایي شبکې د اړوندو ادارو له خوا اداره کېدل، سره راغونډوي.

د نورو معلوماتو لپاره کولای شی په لاندې توګه اړیکه ونیسی


**نړیوالې مالي اداري**
سید فرهان فسیح الدین
۰۰۹۲۲۱۵۶۱۰۰۶۵
sfasihuddin@ifc.org

رحیم مصطفی
۰۰۱۲۰۲۲۴۶۱۴۲۳۰
rmustafa@ifc.org

**دکوچنیو پورونو د لمړي بانك**
منصور مهدی حبیب
۰۷۹۹۰۹۰۷۰۵
mansur.mehdi@fmfb.com.af